# ډایناسور وپوښته!

خپرندوی: Dk Publishing

ژباړن: عبدالجمیل ممتاز




Ketabton.com

د دغو او نورو پوښتنو په اړه به مختلف ډایناسوران تاسو ته ځوابونه ووایي او همدارنګه نور اړوند معلومات به هم په لنډه توګه درته وړاندې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډايناسور وپوښته



(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیکلړ

سرلیکونه مخونه



آیا ټول فوسیلونه په ډایناسورانو پورې اړه لري؟........... ٤
آیا هر څوک فوسیل موندلی شي؟...................... ٦
آیا ډایناسوران د اسمانڅکو په اندازه غټ ول؟......... ٨
آیا ډایناسوران الوتلی شوای؟.......................... ١٠
له دوی نه کوم یو یې ډېر خطرناک و؟ ................. ١٢
آیا د ښامار په نوم کوم موجود هم و؟ .................. ١٤
آیا د ډایناسور بچیو لوبې کولې؟ ....................... ١٦
آیا ډایناسورانو شورماشور کاوه؟ ....................... ١٨
آیا ډایناسوران لټان ول؟ ................................ ٢٠
آیا تریسراتوپس زړور و؟ ................................. ٢٢
تر ټولو غټ تي – ریکس څېرته دی؟ .................... ٢٤
آیا ډایناسورانو لامبلی شوای؟ .......................... ٢٦
آیا کیدی شي ډایناسوران بیا راژوندي شي؟ ............ ٢٨
کوم ډول ډایناسوران ریکارډ لري؟ ..................... ٣٠
د ځینو کلمو تعریف او تشریح .......................... ٣٢
د ژباړن یادونه ......................................... ٣٢


g Kindersley. All Rights Reserved

(c) ketabton.com: The Digital Library

## آیا ټول فوسیلونه په ډایناسورانو پورې اړه لري؟

زموږ ډایناسورانو د هغه څه په اړه چې تاسو انسانان پوهیږئ، ټول زموږ له فوسیلونو نه اخستل شوي دي، خو ټول فوسیلونه (fossils) بیا موږ پورې تړاو نه لري. فوسیلونه د هغو ټولو ځناورو او بوټو پاتې شوني دي، چې میلیونه کاله پخوا یې ژوند کاوه.



فوسیلونه کولی شي تاسو ته ووایي، چې څه وخت موږ ژوند کاوه او ځینې هغه معلومات (البته ټول نه) درکړي، چې زموږ یا د قبل التاریخ ځناورو او نورو ژویو ژوند څه ډول و.



(c) 2011 Dorling Kindersley. All Rights Reserved

(c) ketabton.com: The Digital Library

## 5 زموږ په اړه معلومات ....



۱- تر اوسه له ۷۰۰ ډولونو نه زيات ډايناسوران پېژندل شوي دي. خو زموږ د ډايناسورانو ډولونه له دغه شمېر څخه اوښتي و.


۲- د ۲۳۰-٦۵ ميليونه کالو مخکې مو ژوند کړی دی.

۳- د ډايناسور نوم د (غټ او وحشتناک تمساح) په معنا دی.

۴- موږ تمساح نه وو، بلکې د وچې د خزنداګانو يوه ډله وو، چې سيخ په دوو پښو يا قامت باندې درېدلی شوای.

۵- ښځينه ډايناسوران هګۍ اچولې.

## تاسې کومه زمانه کې ژوند کاوه؟



پوهان په دې باوري دي چې د ځمکې عمر ميلياردونه کاله دی او مختلفې زماني دورې يې هم ورته نومولې دي. هغوی ټولې هغه دورې چې موږ پکې ژوند کاوه، د ترياسيک، ژوراسيک او کرتاسيوس په نومونو پېژني.

۲۵۰ ميليونه کاله پخوا د ځمکې ټولې وچې سره تړلې وې.

کيدی شي، بېلابېل فوسيلونه مختلفې نښانې ستاسو په واک کې درکړي.

## زموږ خرښندې او د پښو خاپونه



دا درنه ويلې شي چې موږ څنګه تګ کاوه او چټکتيا مو څومره وه.

### کوپرليليتونه



(تيره شوي سرې) دا درته ويلې شي چې موږ څنګه تګ کاوه او چټکتيا مو څومره وه.

### ځالې



تاسو ته ويلې شي، چې موږ څنګه ګډ ژوند کاوه.

## آيا کولی شو، د يو فوسيل هډونه په اسانه اړوند ځای کې يو د بل څنګ ته کېږدو؟

**نه**، ځکه چې زموږ د هډوکو ځينې (البته کم) فوسيلونه نه پيدا کيږي.

لرغون پوهان داسې کسان دي، چې د ډايناسورانو فوسيلونه کشفوي او تر ځېرنې لاندې يې نيسي او همدارنګه د هغوی اړوند هډونه په ترتيب يو د بل څنګ ته ږدي.


زه ستګوسروس يم او د واښه خورو سترو ډايناسورانو له ډلې څخه ګڼل کيږم.

© 2011 Dorling Kindersley. All Rights Reserved

(c) ketabton.com: The Digital Library

## آیا هر ځوک فوسیل موندلی شي؟

د ډایناسورانو فوسیلونه د نرۍ په کچه په تخته سنګو (هوراو تېرو) کې موندلی شئ. ساحلونه، کانونه، د سیندونو غاړې او که زیات چانسي وئ، ستاسو د کور انګړ، اد هغه احتمالي ځایونه دي، چې فوسیلونه پکې موندلی شئ.




په شمالي امریکا کې ټي-ریکس، تریسراټوپس، پاراساولوفس او نور فوسیلونه موندلی شئ.

## لمړنی کشف شوی ډاپناسور څه و؟

لمړنیو انسانانو د ډاپناسورانو فوسیلونه موندل، خو نه پوهېدل چې هغه څه دي.

وروسته پوهانو په اتلسمه پېړۍ کې زموږ پر نومولو باندې پیل وکړ.

زه ایګوانوډون یم او له هغې ډلې څخه یم، چې تر ټولو لمړی ونومول شول.

یو شمېر غټ او تر ټولو پخواني ډاپناسوران په جنوبي امریکا کې موندل شوي دي.

د ګوتي نوک یې راته لمړی زما پر پزه ایښی و.

ما پر څلورو پښو تګ کاوه او پر دوو پښو مې منډې وهلې.

(c) 2011 Dorling Kindersley. All Rights Reserved.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په چین او د اسیا نورو برخو کې زیات فوسیلونه لکه پروتوسراتوس او بنېک وال ډایناسوران موندل شوي دي.

خو د پلاتوسروس، ایګوانودون او بارونیکس ډولونه په اروپا کې موندل کیږي.




د ډایناسورانو په دوره کې استرالیا له اوس نه ډیر یخ و؛ له همدې امله هلته یوازې د مینمي په نوم کوچنې ډایناسوران موندل کیږي.

څوک پر ډایناسورانو باندې نوم ایښودنه کوي؟

هغه لرغون پوه چې د ډایناسورانو نوي ډولونه کشفوي، کولی شي نومونه هم ورباندې کېږدي. دا وګړی کولی شي چې د یو تن یا د هغه ځای نوم چې اړوند فوسیل هلته موندل شوی وي، غوره کړي، نو غالباً زموږ ډایناسورانو نومونه دا ځرګندوي چې موږ څه ته ورته وو.

د بارکیوسروس، سپینوسروس او نورو ډایناسورانو فوسیلونه په افریقا کې موندل شوي دي.

د جنوب قطب لکه اوس سوړ نه و، ځکه چې هلته د هیپسیلوفوډونټ ډلې ډایناسورانو ژوند کاوه.

(c) 2011 Dorling Kindersley. All Rights Reserved.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## آيا ډايناسوران د اسمانڅکو په اندازه غټ ول؟

ټول نه، خو ځيني ډايناسوران لکه ما غوندي ډېر غټ ول، زه باروسروس يم او د اوږد غاړو ډايناسورانو په ډلې پورې مې اړه درلوده، اوږده لکۍ مې وه او خوراک مې واښه و، البته د ساروپادونو په نوم ښه پېژندل کيږم.



## کله چې تاسو ګرځيدئ، آيا زمکه لړزيدله؟

هو، زما وزن له دريو فيلانو نه زيات و، حجيم (غټ) بدن مې درلود او لکه د هغوی په شان پايه ډوله پښې مې درلودې او همغسې تلم.



## 5 زما په اړه معلومات .....

١- ما شاوخوا ١۴٥ تر ١٥٦ ميليون کاله وړاندې د ژوراسيک په دوره کې ژوند کاوه.


٢- په شمالي امريکا او افريقا کې موندل شوی يم.

٣- زما نوم د (غټ سمساره) په معنا دی.

۴- احتمالاً په ګله ييزه توګه اوسيدو.

٥- تر ډيره مې د نښترو او بانګس ونې خوړلې.








(c) 2011 Dorling Kindersley. All Rights Reserved.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## کوم ډول ساروپډونو ریکارډ درلود؟

ساروپډونه تر ټولو هغه غټ او درانه حیوانات دي، چې تر اوسه یې پر ځمکه باندې ژوند کړی دی.


په دوی کې ارجنټینوسروس تر ټولو غټ و، چې لوړوالی یې د یوې شپږ پوړیزې ودانۍ سره برابر و.



سیسموسروس پکې تر ټولو غټ او دروند و، چې وزن یې د شپږو فیلانو سره برابر و.



براکیوسروس د خپلو لوړو پښو او اوږدې غاړې له امله تر ټولو لوړ و، هغه کولی شوای خپله غاړه د دوو زرافو په اندازه اوږده کړي.




(c) 2011 Dorling Kindersley. All Rights Reserved

موږ بیخي زیات غټ وو، همدارنګه دا مهال ونې هم د ځمکې پر مخ خورا لوړې وې او ګڼ ښاخونه او پاڼې یې درلودې.

## آیا تاسو د ډېر لوړو ونو سرونو ته هم رسېدلی شوی؟

تقریباً نه، زما غاړه زیاته جګه او اوږده وه، تقریباً د دوو لاری موټرو د اوږدوالي په اندازه وه، خو ما نشوای کولی چې زیاته یې جګه کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## آيا ډايناسوران الوتلی شوای؟

که څه هم موږ ځينو وزرونه درلودل؛ خو نه، نه شوای الوتلی. زه کاوديپټريکس يم. ښکو مې زما بدن ښه تود ساته.

زه د يو فيل مرغ په اندازه وم.

د ډايناسور وزرونه لکه د فيل مرغ يا هغو نورو مرغانو په شان ول، چې الوتلی نشي او دواړه سره برابر دی.

ډايناسورانو لکه د الوتونکو په شان د خپلو سرونو دواړو خواوو ته سوري درلودل چې داخلي غوږونو ته يې لاره درلوده.

## 5 زما په اړه معلومات ........

۱- ما شاوخوا ۱۲۵ ميليون کاله پخوا د کراتسيوس په دوره کې ژوند کاوه.

۲- په چين کې موندل شوی يم.

۳- نوم مې د (ښکې لرونکی لکۍ) په معنا دی.

۴- بوټي او کوچني موجودات لکه حشرات، چرمښکی او کوچنې تی لرونکي مې خوړل.

۵- د سمندر او سيندونو غاړو کې مې ژوند درلود.



(c) 2011 Dorling Kindersley. All Rights Reserved

(c) ketabton.com: The Digital Library

## آیا خال لرونکي ډایناسور هم شتون درلود؟

ډېر کوچني فوسیلونه دا ښيي چې زموږ د پوستکي جوړښت او سنگار څه ډول و. په ورورستيو کې چې کوم فوسيلونه موندل شوي، پوستکی يې د لاره لاره پوستکي (د وحشي خره پوستکي) په بڼه ښودل شوی دی؛ خو تر اوسه پورې هېڅ ډایناسوري فوسیل نه دی موندل شوی.




## ستاسو رنگ څه ډول و؟

هیڅوک سم نه پوهيږي، په فوسیلونو کې بیخي په ندرت رنگ موندل شوی دی.

لرغون پوهان، زموږ د ژوند د ځای او خرنگوالي له څېړنې وروسته، زموږ رنگ ته اټکل کوي.



## نور کوم ډول ډایناسوران الوتونکو ته ورته ول؟

الوتونکي د ډایناسورانو سره زیات ورتوالی لري، ان تر دې چې د اوږدې مودې په تېرېدو سره زموږ ځینې ډایناسوران پر الوتونکو بدل شول.




(c) 2011 Dorling Kindersley. All Rights Reserved

(c) ketabton.com: The Digital Library

## له دوی نه کوم یو یې ډېر خطرناک و؟

غوښه خواره ډایناسوران ډېر وحشي وژونکي ول، خو په دوی کې بیا ښکاري ډایناسوران تر ټولو خونړي ول.

زه ډینونیکاس یم او لکه د نورو ښکاریانو غوندې چټک، چلباز، هوښیار، ځواکمن او وحشتناک وم.



## آیا ډایناسورانو ټوپ وهلی شوای؟

هو، ښکاري ډایناسورانو جګې او پیاوړې پښې درلودې، چې زیات چابک ول.



موږ کولی شوای پر واښه خورو ډایناسورانو باندې د برید لپاره والوزو او د هغوی پر شا ونښلو.

دلته زما د سکلېټ بڼه وینئ چې د ټوپ او خېز په حالت کې دی.



زما لید ډېر تېز او پیاوړی و او په یو میل کې مې د ښکار بوی حس کولی شوای.

## وژل مو څنګه کول؟

سم لکه د یو کانګفوکار په شان به مې خونړی خېرې او لغتې وارولې. زما د مخې دواړو پښو (لاسونو) کې لکه د لور غوندې تېره او اوږده نوکان ول، چې د ښکار کولو پر مهال به مې د ښکار پر تنه باندې راکاږلې او هغه به مې څیراوه.



د پښې فوسیل



(c) 2011 Dorling Kindersley. All Rights Reserved

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ولې تاسې ته رېپټور (ښکاري) ویل کیږي؟

رېپټور (Raptor) لاتیني کلمه ده، چې د منګولو خښولو ته وایي.
اوس وخت کې د رېپټور اصطلاح ښکاري الوتونکو لکه باز او نورو ته چې خپل ښکار ژوندی نیسي، کارول کیږي.
موږ هغه ډایناسوران وو، چې دوی ته ورته عمل مو کاوه او ځینو مو ښکې هم درلودې.



ولاسیرپټور

## 5 زما په اړه معلومات .....

۱- ما شاوخوا ۱۰۸- ۱۱۵ میلیون کاله پخوا د کراتسیوس په دوره کې ژوند کاوه.
۲- په شمالي امریکا کې موندل شوی یم.
۳- نوم مې د (ویرونکو خپرو) په معنا دی.
۴- ما ټول ژوونکي، سمساره او وابنه خواره داناسوران
۵- احتمالاً ما په ډلیز ډول ښکار کاوه.






(c) 2011 Dorling Kindersley. All Rights Reserved

(c) ketabton.com: The Digital Library



## آيا د ښامار په نوم کوم موجود هم و؟

ښامار يو خيالي او افسانوي موجود دی، خو ځينې ډايناسوران د ښامار سره ظاهري او چلندي ورتوالی لري.

زه سپينوسروس يم ، که څه هم زما له خولې نه اور نه راووت، خو وېرووونکې څېره مې درلوده.

زه له تيرانوسروس څخه غټ وم.

د خپلې جوړې د پام جلبولو لپاره مې له خپل غټ بادوان (بادبان) نه استفاده کوله.

له خپلې کلکې او لوړې لکۍ نه مې د ښکار د وهلو او ځپلو لپاره استفاده کوله.

5

## زما په اړه معلومات ......

١- ما شاوخوا ٩۴- ١٠٦ میلیون کاله پخوا د کراتيسوس په دوره کې ژوند کاوه.

٢- د افريقا په شمال کې موندل شوی يم.

٣- نوم مې د (شمزۍ والې سمساره) په معنا دی.

۴- ما به غټ کبان، ډايناسوران او الوتونکې خزنده خوړل.

٥- زه تر ټولو هوښيار ډايناسور وم.



© 2011 Dorling Kindersley All Rights Reserved

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ستاسو پر ملا باندې څه دي؟

زما د شمزي (ستون فقرات) هډوکي ډېر غټ ول، چې تر پوستکي لاندې يې د يو بادوان (بادبان) بڼه غوره کړې وه. له دغه بادوان نه مې د لمر پر وخت د وجود تودلو او همدارنګه په سيورۍ کې د وجود سړولو لپاره استفاده کوله.

لکه د تمساح په شان مې اوږدې ژامې او تېره اوږده غاښونه درلودل.

سپينوسروسونو لکه د اوسنيو مارانو په شان رنګه او طراحې شوی بدن درلود.

## آيا تاسو ته ورته نورو ډايناسورانو هم شتون درلود؟

زه د سپينوسريډونو په نوم د غوښه خورو ډايناسورانو په ډلې پورې اړه لرم، دوی د نړی په هر ځای کې موندل شوي دي، موږ ټولو پر دوو پښو تګ کاوه او وتلې او نرۍ جمجمې مو درلودې. زما کوچنې قومونه (نسلونه) باريونيکس او اريتاتور نوميږي.

د اريتاتور پاتې شوني په برازيل کې موندل شوي دي.

(c) 2011 Dorling Kindersley. All Rights Reserved.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## آیا د ډایناسورانو بچیو لوبې کولې؟

موږ لیلینا سورا یوو، موږ د مور لخوا تغذیه کېدو او زموږ پالنه او ساتنه یې کوله.

موږ د لوبو له لارې دا زده کول چې څنګه غذا (خواړه) پیدا کړو، نورو سره ژوند وکړو او خپل ځانونه وساتو.



## آیا تاسې پخپلو ځالو کې ارام او راحت وئ؟



هګۍ به د دایرې په ډول ایښوول کېدې.

زموږ ځالې د خاورو او پاڼو له کلک مخلوط څخه جوړېدلې.

سم لکه د اوسنیو سمندري الوتونکو د ځالو په شان.

موږ ذاتاً زیره سترګې او لنډ وربوزونه لرل، چې زموږ څېرو ورسره لا جذابیت پیدا کړی و او له همدې امله میندو مو زموږ ښه ساتنه کوله.

## دا مو د مور که د پلار سکلیټ دی؟



مایساورا (ښه سمساره مور)

یوازې اټکل کېدی شي، ځینې لرغون پوهان وایي: د ښځینه ډایناسور د مقعد سورې څکه لوی و، چې هګۍ یې اچولې، یعنې د نرانو په پرتله لوی و. البته نرانو هم ممکن ځینې ځانګړتیاوې درلودې چې خپل ښځینه جوړې یې تر اغېز لاندې راوستلې.



(c) 2011 Dorling Kindersley. All Rights Reserved.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## آیا ډایناسورانو هم پرنجل؟

هو، ځکه چې مورږ هم د پوزې سوري درلودل. داسې تصور کیږي چې زیاتره ډایناسورانو د خواړو موندلو لپاره د بوی او د نژدې ډایناسورانو د پېژندلو لپاره ښه حس درلود.

زمورږ په وخت کې استرالیا یوه توره تیاره وچه وه او اوږده ساړه ژمي یې درلودل. نو ځکه مورږ هلته ژوند نشوای کولی.

5

### زمورږ په اړه معلومات .....

۱- مورږ شاوخوا ۱۰۶ میلیون کاله پخوا د کراټسیوس په دوره کې ژوند کاوه.

۲- په استرالیا کې موندل شوي یوو.

۳- نوم مو د (لیلین سمساره) په معنا دی، دا نوم د هغه لرغون پوه د لور دی، چې مورږ یې کشف کړو.

۴- مورږ کلک واښه او بوټی خوړل.


۵- تېزې سترګې مو لرلې، چې په تیاره کې مو هم خواړه په اسانه موندلی شوای.

(c) 2011 Dorling Kindersley. All Rights Reserved

(c) ketabton.com: The Digital Library

## آیا ډایناسورانو شورماشور کاوه؟

زه پاراسارولوفوس یم، داسې تصور کیږي چې کله به
مې دښمن لرې نزدې ولید، نو د نورو ډایناسورانو د
خبرولو لپاره به مې په لوړ غږ شورماشور جوړاوه.
همدارنګه زه د هغو ډایناسورانو له ډلې څخه یم،
چې پر سر باندې مې لکه نل یو تاج درلود.
البته تاج مې سورني ته لږ ورته و.



## آیا غاښ درد مو درلود؟

احتمالاً ۱۰۰۰ غاښونه مې درلودل، چې ټول په ژامو کې کتار
ځای پر ځای شوي ول او د واښو وړولو لپاره ښه کارېدل.

زما فوسیل شوې
جمجمه



(c) 2011 Dorling Kindersley. All Rights Reserved.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کوم بوټي او وابښه مو خوړل؟

زه د هغو غټو وابښه خورو ډایناسورانو له ډلې څخه یم، چې هادرسورونه نومېدل.



ځیني مو څربدل او د زمکې پر مخ وابښه مو خوړل. خو ځینې بیا لټېدو او د ونو لوړ ښاخونه او پاڼې مو خوړلې.

## زما په اړه معلومات ......

5

١- ما شاوخوا ٧٣- ٧٦ میلیون کاله پخوا د کراټسیوس د دورې په وروستیو کې ژوند کاوه.

٢- په شمالي امریکا کې موندل شوی یم.

٣- نوم مې د (تاج لرونکې) په معنا دی.

٤- د ښه امنیت لپاره مو ډلییز ژوند کاوه.

٥- خوراک مې ونې او کلک بوټي ول، لکه نښتر او همدارنګه د ونو پوټکي.



کلک او لوړ وربوز مې د هیلې د منبوکې په شان و.



یو لوړ قده ډنګر بنیادم زما د تاج دننه ځایېدلی شواى.

کله به مې چې سر شا ته ټیټ کړ، نو تاج به مې پر ملا باندې لګېد.



## په نورو بڼو تاجونه هم ول؟

د هادرسورونو تاجونه مختلف ډولونه او اندازې درلودې. ځینې یې د قاب، ځینې یې د نیغ ښکر او ځینې یې د خولې په شان ول.




(c) 2011 Dorling Kindersley. All Rights Reserved.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## آیا ډایناسوران لټان ول؟

زه انکیلوسروس یم او نورو واښه خورو ډایناسورانو ته ورته وم. په ټوله کې زه آرام او بې خطره وم، خو پر ما باندې د برید پر وخت نه وم ارام. زما پر غټه او درنه تنه باندې چې کومې تېرې او ډبلې زخې وینئ، دا د هډوکو وې. دا زخې ما ته د ذرې په شان وې او هېڅ غوښه خواره ډایناسور ما ته زیان نه شواى رسولى.







## د ورځې به مو څه کار کاوه؟

زه تل د خوراک په حال کې وم، ځکه زه اړ وم چې فقط د ژوندي پاتې کېدا لپاره زیات بوټي او واښه وخورم. زما نس ډېر لوی و او ان تر ټولو سخت خواړه هم پکې هضمېدلی شول. له همدې امله زما له بدن نه زیات ګاز (باد) هم ووت.



## آیا تاسو ته ورته نور ډایناسوران هم ول؟

زه د انکیلوسورونو په نوم د زغره والو ډایناسورانو په ډلې پورې اړه لرم.

اوپلوسفالوس بیا د خیټې پر مخ هم همدغسې زخې درلودې او همدارنګه د لکۍ په اخر کې یې یو ګرز هم درلود.



ادمونتونیا څو کتاره زخې (چړې) درلودې.



ګاستونیا پر شا او لکۍ باندې زخې (چړې) درلودې.





(c) 2011 Dorling Kindersley. All Rights Reserved.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## آیا ډاېناسوران هوښیاران ول؟



نه، خو موږ وکولی شول چې میلیونه کاله ژوند وکړو.
خو واښه خوړو ډاېناسورانو بیا زموږ په پرتله لږ ماغزه درلودل.
غوښه خوړو ډاېناسورانو څکه زیات ماغزه درلودل چې د برید لپاره یې پلان جوړاوه.

## زما په اړه معلومات.....

5


۱- ما شاوخوا ٦٥- ٧٠ میلیون کاله پخوا د کراټسیوس د دورې په وروستیو کې ژوند کاوه.
۲- په شمالي او جنوبي امریکا کې موندل شوی یم.
۳- نوم مې د (زخن سمساره) په معنا دی.
۴- په ځنګلونو کې اوسېدم.
۵- خوراک مې لنډ بوټي او واښه ول.






زما پر کلک پوستکي باندې د غوښه خوړو ډاېناسورانو غاښونو کار نه کاوه، ان وربانديې پڅېدل به.

## آیا تاسې پنډ او پیاوړي وئ؟




هو، د هډوکي یو درونډ ګرز زما د لکۍ په پای کې و، چې د دښمن پر وړاندې مې ګټه ترې اخیسته.

(c) 2011 Dorling Kindersley. All Rights Reserved.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## آیا تريسراتوپس زړور و؟

زه تريسراتوپس يم او د ښکرورو ډايناسورانو له ډلې څخه يم. دومره زړور او ځواکمن وم، چې له غوښه خورو ډايناسورانو سره مې مخامخ جګړه کوله.

زه يو غټ کوږ يا سرکوزي ته ورته وم.








(c) 20... All Rights Reserved.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نورو کومو ډایناسورانو دغسې تاج درلود؟

هو، ډېرو درلود.

لاندې درې نمونو کې يې ډولونه لیدلی شئ.



ستیروکوسروس عجیبه ښکرور تاج درلود.



پروتوسراتوپس بیا داسې تاج درلود.



د پنتاسراتوپس تاج بیا تقریباً د یو کوچنې موټر په اندازه و.

## تاج مو له کوم جنسه و؟

تاج مو د هډوکي له جنسه و، چې په مرسته يې موږ غټ ښکارېدو او د غوښه خورو ډایناسورانو سره د جنګ پر وخت به يې زموږ د غاړې ساتنه کې ډېره مرسته کوله.



پروتوسراتوپس د یو غټ پسه په اندازه و.



د پروتوسراتوپس فوسیلونه هر مهال د اسیا د ګوبي په دښته کې موندل شوي.

له هګۍ نه د تازه راوتلي ډایناسور جمجمه

## د خوښې خواړه مو څه ول؟

زه واښه خور ومر او د زمکې پر مخ زیات واښه مې خوړل، چې ټول مې د خپلې توتې ډوله مښوکې په مرسته راماتول (راشوکول)او خوړل مې.

## 5 زما په اړه معلومات ......



١- ما شاوخوا ٦٥- ٦٨ میلیون کاله پخوا د کراتسیوس د دورې په وروستیو کې ژوند کاوه.

٢- په شمالي امریکا کې موندل شوی یم.

٣- د ځان ساتنې لپاره مو ډلییز ژوند کاوه.

۴- نوم مې د (درې ښکر لرونکې) په معنا دی.



(c) 2011 Dorling Kindersley. All Rights Reserved.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تر ټولو غټ تي – ريکس چېرته و؟



زه (سو) نوميږم او تر ټولو غټ تي- ريکس هم زه يم چې تر اوسه پورې موندل شوی دی. زما تقريباً يو بشپړ سکليت په ۱۹۹۰ کال کې د سوزن هنډريکسن فوسيل موندونکي لخوا کشف شو. همدارنګه زما فوسيل شويو هډوکو ته تقريباً ورته يوه نسخه جوړه شوې چې د شيکاګو په فيلډ موزيم کې ننداريٰ ته ايښوول شوې ده.



## 5 زما په اړه معلومات ......

۱- ما شاوخوا ۶۵- ۶۷ ميليون کاله پخوا د کراتسيوس د دورې په وروستيو کې ژوند کاوه.

۲- د افريقا په شمال کې موندل شوی يم.



۳- نوم مې د (ظالم او پاچا سمساره) په معنا دی.

۴- غټ واښه خواره ډايناسوران مې خوړل.

۵- په خپله سيمه کې تر ټولو غټ غوښه خور ځناور وم.

(تي) د تيرانوسروس مخفف دی، چې د ځينو غوښه خورو ډايناسورانو نوم دی.

لرغون پوهان پوره نه پوهيږي، خو داسې تصور کوي چې لاسونه مې دومره واړه ول، چې د ولاړېدو او د غذا خوړلو لپاره ترې ګټه نه اخستل کېده.



(c) ketabton.com: The Digital Library

## آیا تاسو تل بریالي وئ؟

نه، وابنه خواره ډایناسوران لکه ټرایسراټوپس ځواکمن ساتندوی وسایل درلودل. کله به چې ماسره په کلکه جنګېدل نو زه له هغه ځای نه تېښتي ته اړ کېدم.

## ستا لاسونه ولې دومره واړه ول؟

د ډایناسورانو جمجمې لوی سورې درلودل، چې له امله یې هغه سپکه وه. دا ځانګړتیا ځکه ورته مهمه وه چې د ځینو سر له یوې پرېښې (غټه تېره) هم غټ و.







## څو غاښونه مو درلودل؟

۵۸ غاښونه، چې له هغو نه مو د ښکار د داړلو، څیرولو او نیولو لپاره استفاده کوله. د دغو غاښونو سرونه مو د اړي دندانو ته ورته ول، نو ځکه موږ کولی شول چې خپل ښکار ټوټه ټوټه کړو.

د ډایناسورانو زیات غاښونه موندل شوي دي، نو پر همدې بنا، غاښونه مو خامخا لوېدل او پر ځای یې نوي غاښونه راختل.

(c) 2011 Dorling Kindersley ... reserved

(c) ketabton.com: The Digital Library

## آیا ډایناسورانو لامبلی شوای؟

ډایناسوران د وچې خزندګان ول او لامبل یې نه. البته سیندونو ته نږدې یې استوګنه کوله، څکه چې په اوبو کې به یې کبان ښکار کول.
نور خزندګان هم ول، چې هغوی کولی شول ولامبي او ان په سمندرونو کې یې ژوند کاوه.
زه الاسموسروس یم.

## په سمندرونو کې څه ډول مخلوقات ول؟

زه ډایناسور نه یم، زه د پلسیوساورونو په نوم د خزندګانو له کورنۍ څخه یم، البته زه د خزندګانو له هغو ډولونو څخه یم چې د ډایناسورانو په دوره کې مې ژوند کاوه.

## د سمندر تر ټولو غټ خزنده کوم و؟

لندغاړي پلیوسرونه تر ما زیات غټ ول. لیوپلوردون بیا په هغوی کې دومره غټ و، چې د پیاوړو نښن دوله داړو سره یې غټ سر درلود.

دا اروارې له غټو غاښونو څخه ډکې وې، چې د خوړو لګه د سمندر لویو خزنده ګانو، صدفونو او کبانو وړولو او ژوولو لپاره ترې استفاده کېده.






(c) 2011 Dorling Kindersley. All Rights Reserved.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سمندري خزندګانو څه خوړل؟

ځينې هغه موجودات چې سمندري خزندګانو به خوړل، اوس هم شته.



سکویډ، له ۴۰۰ میلیون کاله مخکې یې ژوند کاوه.



کاواکان، هم له ۴۰۰ میلیون کاله مخکې ژوند پیل کړی دی.



سمندري حلزونونو، له ۵۰۰ میلیون کاله مخکې ژوند پیل کړی دی.



د سپینو نهنګانو (شارکونو) د نیکونو په شان کبان

## 5 زما په اړه معلومات ....

۱- ما شاوخوا ٦٥- ۸۵ میلیون کاله پخوا د کراتسیوس د دورې په اخر کې ژوند کاوه.

۲- په شمالي امریکا کې موندل شوی یم.

۳- د نړۍ دویم پلیوسار وم.

۴- ما به کبان، امونیټونه(نرم بدني)، بلمنیټونه (لکه کبان نرم تني) خوړل.

۵- د خواړو هضمولو لپاره مې هډوکي هم خوړل.

موساسر

## د لامبو تیزوالی مو څومره و؟

موږ ډېر آرام لامبوزن وو، د کبانو ډلې ته مو کمین نیو او خپل ښکار به مو کاوه. ایچتیوسارونه تر موږ چټک ول.

وریسي بیا موساساران زیات چابک او چټک ول او زموږ غرا به یې رانه خوړله.

(c) 2011 Dorling Kindersley. All Rights Reserved.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## آیا کیدی شي ډایناسوران بیا راژوندي شي؟

شاوخوا ٦٥ میلیون کاله وړاندې موږ ټول له منځه لاړو. ځینو پوهانو له نوې ټکنالوجۍ نه په ګټې هڅه کړې چې موږ بیا راژوندي کړي، خو تر اوسه لا نه دي توانیدلي.

## آیا تاسو ناروغېدئ؟

ځناور ناروغېږي، نو ښکاره ده چې ډایناسوران هم ناروغېدل، خو فوسیلونه د ناروغیو شواهد نشي وړاندې کولی. البته ٦٥ میلیون کاله پخوا د ناروغۍ ترخه پېښه د دې لامل شوه چې ډایناسوران، الوتونکي او لامبوزن خزندګان په بشپړ دول له منځه لاړ شي.
یوه پرښه (غټه ډبره) زمکې سره ټکر کوي.





(c) 2011 Dorling Kindersley. All Rights Reserved.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کوم ځناوران د وچې پر مخ ژوندي پاتې شول؟


که څه هم ټول ډایناسوران له منځه لاړل، خو ځيني کوچني- کوچني ژوندي پاتې شول. دا ځناور عبارت دي له:
واړه خزندګانو، حشرو او ځينو تي لرونکو او الوتونکو څخه.




## ولې تاسو ټول له منځه لاړی؟

پوهانو متفاوتې فرضيې وړاندې کړې دي؛ ځيني يې داسې تصور کوي چې زمکې سره ځيني غټ اسماني ستوري (غټې ډبرې) لګېدلي او له امله يې وريځې، ګرد او کيمياوي بخار رامنځته شوی دی. هم مهاله ورسره زياتې اورغورځونې هم راکتېدلي او وريځې او ګردونه يې اسمان ته شړلي د

دغو ګردجنو وريځو زمکې ته د لمر د رڼا مخه ونيوله او همغه وه چې زمکه زياته سړه شوه. بوټي او واښه ټول له منځه لاړل او موږ ته د خوړو لپاره بيخي لږ څه پاتې شول، نو ځکه بيا موږ هم ټول له منځه لاړو.



## کوم ډایناسوران تر ټولو وروسته مړه شول؟

په زيات باور سره چې غوښه خواره ډایناسوران تر ټولو وروسته مړه شول.
په سر کې واښه خواره ځکه مړه شول، چې هم هوا ډېره سړه شوه او هم د زمکې پر مخ واښه تمام شول او بېرته هم را ونه ټوکېدل. نو غوښه خواره زموږ له مړيني وروسته له منځه ځکه لاړل چې موږ تمام شوو.

(c) 2011 Dorling Kindersley. All Rights Reserved

(c) ketabton.com: The Digital Library

## کومو ډایناسورانو


## ریکارډ درلود؟

### تر ټولو غټ خزنده الوتونکی کوم و؟

کویټزالکوټلوس تر ټولو غټ پټروسر و. د وزرونو خلاصولو پر مهال یې د وزرونو له یوې څوکې نه تر بلې پورې واټن ۴۳ فوټه (۱۳ متره) و. دا اندازه د ۷۳۷ بوینګ الوتکې د یو وزر سره برابره ده.

### کوم ډایناسور تر ټولو غټې منګولې درلودې؟

تریزینوسروس د ۳ فوټو (۹۰ سانتي متره) په اندازه اوږدې منګولې درلودې. د هغوی د منګولو دا اندازه د یو بالغ انسان د ټول لاس د اوږدو سره برابره ده.






زموږ لویانو او کوچنیانو د ۱٦٥ میلیون کالو په موده، د زمکې پر مخ واکمنې کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## تر ټولو غټ غوښه خور ډایناسور کوم و؟



ګیګانوتوسروس تر ټولو غټ غوښه خور ډایناسور و.
اوږدوالی یې ۵۰ فوټه (۱۵ متره) و، چې د دريې موټرو له اوږدوالي څخه هم اوږد و.

## تر ټولو لوړ ډایناسور کوم و؟

د سیسموسروس له پوزې نه تر لکۍ پورې واټن ۱۳۰- ۱٦٥ فوټه (۴۰- ۵۰ متره) و. دا اوږدوالی د اتو افریقایي فیلانو په اندازه دی، البته چې کتار ولاړ وي.



## تر ټولو ټیټ ډایناسور کوم و؟



د ډایناسور تر ټولو کوچنی (ټیټ) موندل شوی فوسیل د موسروس بچی دی، چې اوږدوالی یې د یو پنسل په اندازه و.

## تر ټولو غټې هګۍ د چا وې؟

د ماکروالانګاتولیتوس زیزیانسیس فوسیل شوې هګۍ، چې په چین کې موندل شوې دي.

نومورې هګۍ ۱۸ اینچه (۴٦ سانتي متره) اوږدوالی لري.



## تر ټولو هوښیار ډایناسور کوم و؟

ترودون د خپل بدن په پرتله زیات او ستر ماغزه درلودل، دا په دې معنا ده چې تر نورو هوښیار و.

احتمالاً د هغه هوښیاري او ځیرکي د ننني الوتونکیو په اندازه وه.



## تر ټولو چټک ډایناسور کوم و؟

ستراتیومیموس هغه فیلمرغ ته ورته ډایناسور و، چې کولی یې شول په ساعت کې ۴۳ مایله (۷۰ کیلو متره) منډه واخلي.





(c) 2011 Dorling Kindersley. All Rights Reserved.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ځینو کلمو تعریف او تشریح

**ډایناسور:** دا هغه غټ او پخوانی خزنده و، چې میلیونه کاله پخوا پر زمکه باندې اوسېد.
**فوسیل:** د ځناورو او بوټو پاتې شوني دي چې میلیونه کاله مخکې یې ژوند کاوه او په هوارو تیږو کې پیدا کیږي.
**لرغون پوه:** هغه څوک چې له تاریخ نه مخکې د ځناورو او بوټو د فسیلونو په اړه څېړنه کوي.
**تریاسیک:** د ۲۰۰- ۲۵۰ میلیون کالو وړاندې د زمکې پېژندنې دوره.
**ژوراسیک:** د ۱۴۵- ۲۰۰ میلیون کالو وړاندې د زمکې پېژندنې دوره.
**کراتسیوس:** د ٦٥- ۱۴۵ میلیون کاله وړاندې د زمکې پېژندنې دوره.
**جوړه:** دوه حیوانات (نر او ښځه) چې له یو بل نه بارداره کیږي.
**خزنده:** دا هغه ځناور دی چې پر وچه باندې ژوند کوي او هګۍ اچوي.

**د ژباړن یادښت**

د کتاب زمکه (بکګرونډ) چې څنګه وه، همغسې پر خپل ځای ده. که څه هم پر خپل حالت پاتې کېدل یې یو څه ستونزې راپیدا کړې او خورا وخت یې ونیو، خو بیا هم له نیک مرغه وتوانېدم، چې درنو لوستونکو ته یې یوازې د ژبې بدلیدو سره (په پښتو ژبه) وړاندې کړم.

البته دا هم د یادونې ده، چې نوموړی کتاب هم د ماشومانو د تشویقولو او هم د لویانو د معلوماتو زیاتولو لپاره خورا ګټور دی او کولی شي له اړوندو انځورونو نه په مرسته، په ډېره لنډه توګه د مختلفو ډایناسورانو په اړه ځانونه وپوهوي.

(c) 2011 Dorling Kindersley. All Rights Reserved

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**